.ونه نن د زړو هنداره کې یې، ږدم په تاخچو

***

اشنا بې تا د ژوندون مل مې کله بل کېدی شي
یې د زړه غل مې کله بل کېدی شي ته چې منکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

گام حسنه ! دا ته يې چې مې ځارې ټول ژوندون گام په
دا سې آگا له هر يو پل مې کله بل کېدی شي

لوېديزه را غلم ښکلي مې و ځارل ختيز نه تر
ستا نوم په زړه ليک چې اول مې کله بل کېدی شي

نيم نظر لو گی که نه ده شاړه ځواني دا ستا په
شي د ژوند په لو يه لار اجل مې کله بل کېدی

منکر به ليکه د بطلان چې پرې را کاږي سبا
کېدی شي هغه به وي همدا غزل مې کله بل

اقتدا مينې پسې کړې بېکسيار د عمر
بل کېدی شي د لمر په لوري دا مزل مې کله.

***

شې تيارې به تېرې، شپې سبا شي وارخطا چې نه
ستوري، سپوږمۍ، لمر به دِ تا شي وارخطا چې نه شې

!مودو - مودو نه مېشته خياله د قاف په لړو کې
د ښاپېرو ډلې به را شي وارخطا چې نه شې

کايناتو د وجود کې چې په مينه قايل په
شې سترگې د زړه به دې رڼا شي وارخطا چې نه

د وخت تيارو کې ورک پښتونه شم لو گی - لو گی دې
وارخطا چې نه شې کله به تللی دور بيا شي

دا ته د کومو غرونو شور يې بېکسيار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته بېکسیاره ! نغارې د حق رسا غږوه
.شي وارخطا چې نه شي لښکر د ظلم به په شا

***

نه وایي رنځور وختونه دي په ظلم باندې هیڅ
ویده بختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

وو به د تېرې مخالف پخوا په تخت به چې ناست
اوس څه تختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

لباسو په جامو اوس وینې نه ننبلي د سپین
وایي بدل رختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه

د انسانیت جوړښت کې عدل یو څپرکی چې وو
باندې هیڅ نه وایي اوس نور ساختونه دي په ظلم

نړۍ یې وینې بېکسیاره ! چې د زړه په کور دې
.انداختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي تل

***

یاد شوې یاره کور دې ودان څنګه تنها وم ته را
ودان خیر که زه ښکار شوم ته صیاد شوې یاره کور دې

رانه دې لرې خاورې دوړې کړې د سترې ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ياره کور دې ودان د زړګي درمند ته مې باد

خلک دې وايي څه چې وايي اشنا وايي دې نو
مقتول او که جلاد شوې ياره کور دې ودان ته که

څنګه؟ ما وې بې تا به دا وختونه تېروم زه
راته د ټول ژوندون مراد شوې ياره کور دې ودان

رغېږي دا يې خپل نصيب به بېکسيار مري او که
ودان ته يې پيغام د زنده باد شوې ياره کور دې.
***

گل د گلاب بوی د سنځلې)
(ولې قد د چنار سيوری د

هم چې ځواني او هم مستي وي
خوب مزه کا په مټ د ښکلې

مه، راباندې غږ کړه را گوره
کړه مې اسير ولې مې ولې

هم ستا ياد وطن، اشنا زما
دواړه به ځو که چېرې تللې

زه ملامت خو ته لږ راشه
وينه وللې ده وينه چا په

دريغه پردو بېکسياره لوټ کړاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې څه به ګیله کړي څوک له.

***

سترګې دې را یادې شي له سترګو مې اور و اوري
شي له سترګو مې اور و اوري هيلې مې بربادې

مې وايم چې لوګی شوای ځنې بیا بیا چې وربولي
زړه ته چې صیادې شي له سترګو مې اور و اوري

خاندي په شنه سپرلي څنګه تلوسې د ژوندون و
څرنګه نامرادې شي له سترګو مې اور و اوري

شاعرې د اشنا سترګې مسرې پرې لیک کله وي
اوري کله بیا نقادې شي له سترګو مې اور و

وینم په ښادۍ چې ځي د هسک پېغلې تر ړنګ ګودر
سترګو مې اور و اوري وینم چې ناښادې شي له

شین بیا بیا دې اقرار په سترګو بیا بیا دې انکار را
وخت په وخت جلا دې شي له سترګو مې اور و اوري.

***

نه په ظلم کې بوش پلار دی د یزید په اصل
دا وینې د انسان څښل دغه کار د یزید
ځای، بېګا بل ځای، سبا بل ځای دا حملې نن یو
یزید ښکاربږي چې مرګی ته یې تلوار دی د
تړلې یې ده ملا د ټول جهان د هضمېدو

ببېکسیار عبدالمالک

دا ته د کومو غرونو شوریې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يزيد يا مري به بشريت تمام يا وار دى د
تر څو به وي د ظلم دا سې توره تروږمۍ
يزيد د عدل لمر به وخېژي بخت خوار د
ختيز نه تر لوېديزه پسې چيغې د جهاد
دى د يزيد د ژوند هر هر ساعت يې اوس په شمار
ملخ د زمانې دا سې تر څو به وهي ترپ؟
د يزيد مظلوم ولس يې وينو ته خمار دى
ډارن شاعران وايي به دا څوک دا سې لګيا ؟
.يزيد سندرې د مرګ وايي بېكسيار دى د

***

ښه پوه يم راځي نه څه بې ځايه تلوسه مې ده
ريباره ورته وايه تلوسه مې ده ژر ورشه
هره تادي، هره بيړه وي د كار تر پيل پورې
څه عجبه، څه بې پايه تلوسه مې ده مينه
نېغ يو ځل را وګوره د كور ستونه څه كوې؟
ستا تر ډوډۍ نه ستا تر چايه تلوسه مې ده نه
ته؟ كله زه كړكۍ ته شمه، كله زه هنداري
ځان ته چې ښه ځير شمه له ورايه تلوسه مې ده
هېر د خوب په شان يا خو واى راغلى اشنا ، يا مې
نور مې صبر نه شي لويه خدايه تلوسه مې ده
كله وږم، كله خيال شي را كله دې ياد راشي،
ځاى د اوسېدو دې راته ښايه تلوسه مې ده
ناارام خاطر په هيڅ بل څه ارام نه شي نور مې
.ده ستايه بېكسياره ! ښكلي ستايه تلوسه مې

بېكسيار عبدالمالك دا ته د كومو غرونو شوريې

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

دربغه چې وای خو څه شراب اوس به نشه نشه وای
دومره اضطراب اوس به نشه نشه وای زه او دا
خراب که رقیب نه کړای په اپلتو زما وخت را
ولې به وای داسې خراب اوس به نشه نشه وای
 څله تل؟ د اند ېښنو ور مې زاهده ټکوې
کړمه اخته دې په عذاب اوس به نشه نشه وای
اوله بې سد دربغه محفل ته وای راغلی له
پروا به څه مې په جناب اوس به نشه نشه وای
مستي، هم لېونتوب وای اشنا هم چې ځواني، هم چې
خیر که د یار په مخ نقاب اوس به نشه نشه وای
بدرنګ نیمزالي ټول به اوس یو شانې راته ښکلي،
وای ولې به ښکلیو ته بېتاب اوس به نشه نشه
بېکسیار ولې به جنون ته ورځې شپې شمارلې؟
نشه وای که شاعري یې د شباب اوس به نشه.

***

په بې اجله مرګي مړ شومه
شومه د رقیبانو مخکې پړ

ما وې ساپي، ما وې بابړ ټولوم
نه د ساپي نه د بابړ شومه

ناوګۍ کې مې لښکر شو لوټ په
ډېر ګیله من له باجوړ شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگین سپرلی وم د اشنا خوا کې
په بېلتانه کې دا سې خړ شومه

ما وې ولس ته به پیغام وړمه
ماشومانو د پاپړ شومه د
په تول د بوسو کې هم تېر نه شوم
شومه د ژوند اخور کې وچ کنګړ

زه راوتم د یار ډولۍ راغله
بېرته دننه په انګړ شومه

خودی په منزلو کې بند د بې
نه بېکسیار او نه اندړ شومه.

***

څنګه چې په ژوند د چا یقین وي مري به
خلک ژاړي پرې او دی له خندا شین وي

ګور یې غم لړلی فلسطین وي کور او
وي بل نو څوک کېدای شي دا به شیخ یاسین.

***

قار دې لږ سوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟
موړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟ په خوله مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنا د سر په بیه کړه ستا گران دیدن غریب یم
نرخونه جوړ کړه د سبا ورځې څه پته لگي؟

!څوک ساری بخته چې په کابل نه په زابل دې وي
ځان امیر کروړ کړه د سبا ورځې څه پته لگي؟

کاله پخوا په شان اشنا مه چپړه اوس مې د شل
لگي؟ فرق د ځوان، زوړ کړه د سبا ورځې څه پته

په مینه وایي دې تومت جوړه دنیا زړگیه
څه پته لگي؟ ته ځان ناجوړ کړه د سبا ورځې

خدایزده؟ دغه ماښام، دغه باران، دغه ښوروا بیا
غټ پیاز را ووړ کړه د سبا ورځې څه پته لگي؟

!ژوندون ټول کړه را ټول جانانه بې پای سوچونه د
دا یې نچوړ کړه د سبا ورځې څه پته لگي؟

اشنایۍ په پاس لړ ورشه نور دره و گوره د
لگي؟ سیل د سروړ کړه د سبا ورځې څه پته

اشنا ته ورکړه بېکسیاره ! ځای په سرای د زړگي
.سبا ورځې څه پته لگي؟ خوی د اکوړ(1) کړه د

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار را روان که وي را وبه رسي
له خپل ځان که وي را وبه رسي تېر

اشنا چې ته ما ته یې وي چې راځم
که وي را وبه رسي بې شکه ځوان

چا اورېدلی وو محفل کې جرس
رسي مل د کاروان که وي را وبه

ما خو اشنا غوښته چې ویې لمانځم
رسي پاک مې ارمان که وي را وبه

زما په داسې توره ورځ چې آګا
زما جانان که وي را وبه رسي

!وطن بېکسیار کټ لږ تم کړئ د بې
.رسي پاتې یاران که وي را وبه

***

زړګیه ستا دا کشالې، ژوندون به څنګه کېږي؟
چې پالې، ژوندون به څنګه کېږي؟ د مرګ دردونه

لیک دنیا ته ځان ثابتول غواړي په کاڼو نوم
زموږ ناچله قوالې ژوندون به څنګه کېږي؟

ځینې وینې څښېښو موږ لا په یو بل لګوو خولې
موږ لا نه پېژنو پیالې، ژوندون به څنګه کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمندر په تل کې لامبي، ناڅي خلک د ژوند
کېږي؟ زموږه مړي وړي ويالې، ژوندون به څنګه

ته خو لړې به بېکسياره ! د برې د برې هيلې
.ژوندون به څنګه کېږي؟ مېنه د زړه چې کنډوالې

***

واى درېغه ليدلى چې مې يار اوس به نشه نشه
ولې به واى داسې خمار اوس به نشه نشه واى
توبه ده ستا د انکار له بې سديو مې توبه
درېغه چې کړى دي اقرار اوس به نشه نشه واى
شم تر سهاره ژاړم په خوب کې راشي چې را وينې
په وينبه راغى که نګار اوس به نشه نشه واى
راغلى واى محل ته يو ځل د ژوندون باده که
کډې به بار واى د اغيار اوس به نشه نشه واى
چې لږ خبر دې د راتلو راتللاى هسې اشنا
واى ژوند به مې ولې سور انګار اوس به نشه نشه
دا خو د عقل د سيسې دي زه يې ټينګ تړلى
نشه واى زما په وس که څه اختيار اوس به نشه
د بېکسيار يورپ ځواني خزانو ولوټله
.نشه واى سپرلى راغلى که يو وار اوس به نشه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس کې يې لور پروت په ولې پړی دی
لو گرې جينۍ وړی دی زړه رانه

خيال د خيالورې مې مل شوی چې
دی مانه پردی شوی خپل هر غړی

بار مې د ژوندون مړی مدام په سر
دی لاس راکړه اشنا زړګی مې ستړی

وينه ترې د چم خبرو وخوړه
ستا پر د بس شاعر چې لکه مړی دی

بېکسيار که څوک د عشق په تور وژني
دی وژني دې نو دغه کار يې کړی.

***

لاره دومره نه ده رسېدو ته دې که نيت کړی
سپوږمۍ کې ځنګېدو ته دې که نيت کړی لېڅو د

څو به لوغړن گرځم اشنا زه بې له تا داسې؟
ومې سبځه راشه لوګېدو ته دې که نيت کړی

سو به هر مقام هوډ داسې وسله ده چې نصيب يې
زهر هم خواږه شي ګوټېدو ته دې که نيت کړی

!اشنا ټولۍ ته د مينو خو ډېر راشې په خير
سر نه د زړه سره تېرېدو ته دې که نيت کړی

دا ته د کومو غرونو شور يې                                        بېکسيار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوندون چې خپه نه کړې بېکسياره ! ځان خانده
.کړی خپله به زهير يې ژړېدو ته دې که نيت

***

د خپل تقدير په فيصله کې به څوک څه ووايي؟
نه چې څوک، ګيله کې به څوک څه ووايي؟ اوري يې
يوه خوا ظلم دی چې کېږي بله خوا بې وسي
د ژوند په دا سې مرحله کې به څوک څه ووايي؟
غږ را معلوم نه يې لاربه چې، نه منزل او نه يې
په بې جرسه قافله کې به څوک څه ووايي؟
څوک زموږه تر منځ؟ خدايزده که دا ځلې جرګه شي
د مرګ او ژوند په مسله کې به څوک څه ووايي؟
چې خبر وي او مني يې له زړه يوم البدتر نه
نو د وختونو سلسله کې به څوک څه ووايي؟
نه ده چې له وخت سره بدلېږي هر وخت کرزی خو
ووايي؟ د احمد شاه بابا شمله کې به څوک څه
څنګه په پټه خوله دې تېرې کړې نادودې د وخت
.څوک څه ووايي؟ ستا بېکسياره ! حوصله کې به

***

شوه د غه چا وې د تربرونو وينه توی
خورم قسم د سکه ورونو وينه توی شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې میندې بورې، خویندې وراړې شوې له
د بچو او د پلرونو وینه توی شوه

نا انسانو پرې ګوزار بې شمار بمونه
د دې ځمکې، د دې غرونو وینه توی شوه

دي دا ژوندي چې دا په هیڅ هم حساب نه
بې حسابه د سرونو وینه توی شوه

کړې د بانډو، درو ، د کلیو څه حساب
د بسته بسته ښارونو وینه توی شوه
شوې تری تمې ګورګورې او ممانې
څېړیو ، چنارونو وینه توی شوه د

آفرین یې په همت وایه جلاده
وارونو وینه توی شوه د دې خلکو په

ټوله شپه شپې قتلول سپوږمۍ او ستوري
سهارونو وینه توی شوه سپېده داغ د

ما کاته ورته زامنو پلار په دار کړ
د ترونو وینه توی شوه د وربرو په لاس

ټوله پته بېکسیاره ! یوالله ته
.نهرونو وینه توی شوه په ویالو او په

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس سودا د یاره سره گرځي مې احساس لاس په
د بېلتانه غم رانه وړي دي حواس لاس په لاس

والوتله بې اعتباره زمانه شوه حیا
اشنا محفل کې له ساقي غواړي گیلاس لاس په لاس

احوالونه مې د صبر د روړل ریبار که څومره
را و دي نه لېږه اشنا کله شاباس لاس په لاس

هر چا سره تل ښه دي خو وېرېږم اشنا ښه له
لاس نه چې ملگری درسره شي څوک بې پاس لاس په

اشنا هواره کې ارام ته مو څوک کله پرېږدي؟
ته پاس لاس په لاس درځه چې وخېژو دې تورو غرو

!ما لا د مینې بېکسیاره ! نوم اخیستی نه و
.تومتونه او وسواس لاس په لاس راپسې راغلل

***

لکه چا ښه چې په ژړا تش کړی
هسې مې زړه نن په اشنا تش کړی

تر سباوونه یې سلگۍ وهلې
میدان چا تش کړی وې یې د مینې

یو وخت چې مالامال د یار له مخه
غلا تش کړی د زړگي کور مې چا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بې کسۍ نه غاړې، غرو نه ژاړي
کړی مرګي وطن مې لا په لا تش

اوس پکې بې له مینې بل څه نشته
کړی دوکان د ژوند مې له سودا تش

وخت بېکسیار هسې پرې غل ونیوه
.کړی د زمانې جېب چا پخوا تش

***

ستا که د تللي پېغلتوب هوا له سره نه ځي
یو خوب هوا له سره نه ځي زما لیدلي د

زه تورو خاورو سره خاورې شوم په ځوانه ځوانۍ
د مستۍ او یاغیتوب هوا له سره نه ځي ستا

باسي رقیب که ستا سودا په زوره مې له سره
د چا د مخ څټ په پړسوب هوا له سره نه ځي

مې له یو مخې توی رېږه مې سپینه شوه غاښونه
اوس مې لا هم د زلمیتوب هوا له سره نه ځي

خلک وایي اشنا مه یادوه څومره ساده دي
له لېوني د لېونتوب هوا له سره نه ځي

کړم جنتي او به هوا د یورپ بېکسیار څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي نه د ترنک او نه د ژوب هوا له سره نه.

***

را روان په ملک چنگېز دی اسمان ورېځ دی
خېز دی اسمان ورېځ دی د مظلومو جست و
ښکته ځمکه ده چې چوي له هیبته
اسمان ورېځ دی باران اوري او ښه تېز دی
همدا نن چا وې ورځي چې بغداد چور کا
اسمان ورېځ دی امریکه ده او انګرېز دی
باد د کرکې دی چې لګي په هر لوري
اسمان ورېځ دی سیلۍ لوټ د بخت پالېز دی
شپه خو شپه ده، سپینه ورځ هم توري لړې
اسمان ورېځ دی له رڼا نه ژوند پرهېز دی
څو نیمزالې په تیاره ماښام اوبه وړي
اسمان ورېځ دی ګونګوسی یې په کارېز دی
بېکسیاره ! ښکلې شنه له خندا نه شوه
ورېځ دی بس همدغه یې اغېز دی اسمان.

***

د ژوند په تمه د تابوت په غېږ کې شپې اړوم
څاڅکي شور ته د سکوت په غېږ کې شپې اړوم یو

کار نه لري د ژوند سرې، تودې اوس هیڅ راباندې
د بې خودۍ د کاڼي بوت په غېږ کې شپې اړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې کله شک به کاوه د ببلتانه په راتګ
شک مې باور شو د ثبوت په غبرږ کې شپې اړوم

بد مستیو ، عیش او نوش به مې چا دروغ ویلي د
هسې د قوت او لایموت په غبرږ کې شپې اړوم

له خلکو تښتم چې مرغانو په شان ونو ته ځم
شپې اړوم کله سنځلې کله توت په غبرږ کې

دلته چې هر غدار راځي ځان کړي بزرګ د زمان
وایي د طاغوت په غبرږ کې شپې اړوم ولس مې

په زړه مې اوري بېکسیاره ! افغاني سید تل
زه که دمشق که د بېروت په غبرږ کې شپې اړوم

څوک به حضرت داود اوس به طالوت شي راته څوک،
.اړوم ملګرو ! ګورئ د جالوت په غبرږ کې شپې

***

د سپېده داغ غیبږ کې یوه غبرږه وربځ
نه ستوري او نه لمر رابښکاره نه سباوون ښکاري
.شان نن هم د تېرو څو کلونو په

***

دا ته د کومو غرونو شوریې

بېکسیار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړه یو په ځان باندې ډیوې بلوو
ډیوې بلوو په خپل ارمان باندې

د یار ښکالو مو اورېدلې نه وي
بلوو په تش ګومان باندې ډیوې

ستا منزلونه رانه پاتې اشنا
بلوو په لوټ کاروان باندې ډیوې

مور چې سرتوره، پلار چې وژني راته
بلوو مورږ هغه ځوان باندې ډیوې

تر تورو لړو مو نظر نه رسي
بلوو په شنه اسمان باندې ډیوې

زمورږ له خپلې نافهمۍ مرور
بلوو په شته جانان باندې ډیوې

افغانستان لکه پردی کور سوځو
په خراسان باندې ډیوې بلوو

بېکسيار يو امريکن او يو روس زه
بلوو تباه افغان باندې ډیوې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ښام راخور د غره پر ولو دی
دی وخت د توبې د ماتولو

پروردگاره ته یې وبښې
دی بېکسیار کله د ښلو.

***

مینې ستړې مه شې ښه شوه چې بیا راغلې
مه شې ښه شوه چې بیا راغلې ته نیمګړې
زه پردی همدا سې ښه یم، نا اشنا ته
ښه شوه چې بیا راغلې ما هیڅ کړې مه شې
همدا زه یمه چې وینې وینې پروت یم
چې بیا راغلې حیرت وړې مه شې ښه شوه
ستا ګیلې، ښېراوې ما ته په سر سترګو
بیا راغلې خود شخړې مه شې ښه شوه چې
انجمن د وصل، هجر او د اور کې
راغلې خدا یږو غړې مه شې ښه شوه چې بیا
تلوسه ښه یې وژلای دې څوک نه شي
راغلې چې وګړې مه شې ښه شوه چې بیا
بېکسیار ته دې رنې چې او به نه شوې
راغلې او به خړې مه شې ښه شوه چې بیا.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن یې نظر سره غرض لارۀ
غرض لارۀ سم یې د زړه سر سره

یه کنګلي هوډه ! چې وې دا سې سست
لارۀ ولې دې بیا لمر سره غرض

نه منم زه دا چې سپي دې و داړي
لارۀ خوار که د چا ور سره غرض

وخت ته که تېره توره په لاس نه وای
لارۀ ما به څه له سپر سره غرض

میني بې ګونا کړم بېکسیار اسیر
لاره ما کله دې شر سره غرض.

***

ټپي- ټپي یم په پرهر مې مالګې مه دوړوه
زړه سر مې مالګې مه دوړوه په وینې- وینې د

بس دی چې خاورې دې یادونو کړم له خاورو سره
په سوري- سوري ځیګر مې مالګې مه دوړوه نور

سیلیو د روح څرمن مې رانه کښلې د ببلتون
په بې څرمنې خوار بشر مې مالګې مه دوړوه

چې څومره دې وس په تېرو تورو غوڅوه مې تن
اشنا احساس باندې اکثر مې مالګې مه دوړوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډوب شي که بختونه را وينې وخته تختونه به
په ښکارې ويشتې مات وزر مې مالګې مه دوړوه

تخيل تلې مې پرې- پرې په هينداړو د وخت د
.دوړوه نور بېکسياره ! په ګذر مې مالګې مه

***

داسې په منډه چې روان يم څم د لمر کلي ته
نه په بل او نه په ځان يم څم د لمر کلي ته چې

کومه اسره؟ بس په توکل به ور رسېږم نور مې
زه د ناهيلو يو کاروان يم څم د لمر کلي ته

وژنو نه يم ستړی- ستړی تربورګلويو ، ورور
د يويشتم قرن افغان يم څم د لمر کلي ته

سپوږمۍ ، ستوری او سپين سپېده داغ اوسې مدام راکې
کلي ته ځانته په خپله يو جهان يم څم د لمر

د يورپ تورو وربځو و خوړمه دوه لسيزې
څم د لمر کلي ته ډېر په ارمان د شنه اسمان يم

نظر او فکر ، تخيل مې بېکسياره ! ګډ وډ
.ګرېوان يم څم د لمر کلي ته سوچ سره تل لاس او

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وه تېره شپه چې مې غزل ته شيمه
په قسم چې مې مزل ته شيمه نه وه

ډېرې ارادې راتلې د لريو لارو
خو زما غريب يو پل ته شيمه نه وه

"درشي چې غوټېږ پسې وهې په لاس به"
د ملگرو ژور تل ته شيمه نه وه

راغلم دا خو تا وم رابللی چې زه
خو زما گوره محل ته شيمه نه وه

د اشنا بلا يادونه مېلمانه مې
مرگ زړه، زما اجل ته شيمه نه وه د

بېکسياره ! ما وې گوندې پښتون واوړي
قاتل چې مې بدل ته شيمه نه وه له.

***

کله کله کتل ماته محفل کې اشنا کله
رقيب اشنا ته خو پخپله کله کله کتل

هم بل خوا نه کتای زه وايم بې له ما يې کله
دنيا غوسه ده چې يې خله کله کله کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمان کې څه د ستورو اتڼ هغه ما ښام به شنه
جانان او ما چې يو تر بله کله کله کتل

ديدار لره پيدا دي خوشال ښه ويلي سترګې
کتل د ربغه چې ژوند مې تل تر تله کله کله

په بېکسيار باندې يې هم پېرزو کوه وخت ناوخت
کله کتل د تخيل د شاړې ګله کله.

***

دي خير دی که مخ يې بل رنګ سترګې خو يې ستا غوندې
په دې به څه کوو جنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
يې نه يم خبر په اصل، نسل، قبيله باندې
ښايي له ځايه پرنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
کميس به نه يې په تن منم د سرې بنارسۍ
نه يې په غاړه لونګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
خو يې شېبه- شېبه را اوري په زړه ماته وعده
دي و دې شي وکوي ننګ سترګې خو يې ستا غوندې
زه يې پيالو ته نه، ديدن ته د ساقي ور روان
ستا غوندې دي چې ميخانه مې قلنګ سترګې خو يې
څوک نا اشنا راته مودو نه د خيال لارې څاري
سترګې خو يې ستا غوندې دي راته په زړه وهي چنګ
!بېکسيار دومره ډېر خطا هم اشنا نه دی وتی
.در چې ملنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي د چا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ته څه الهام واخلم که نه؟ له سترګو دې غزل
ساقي ستا اجازه ده چې بل جام واخلم که نه؟

په دې ګواه دی چې راځې خو وېش دی نن زړګی
نه؟ ګودر، زه مازیګر او که ماښام واخلم که

سر تېر له ننګ او نومه راته وایي هر اشنا
نام واخلم که نه؟ حیران یم چې رخصت له ننګ او

دا هسې یو هوس دی یو ارمان پوره کوم
خدایزده چې ارام واخلم که نه؟ وصال کې به هم

راوي زما زموللي یې سپرلي کې ډېر ګلان
اوس یې هم په سرو سترګو سلام واخلم که نه؟ لا

په سر بې شکه بېکسیاره ! چې له بخته لاس
.په سوچ کې یم چې وخت ځآنته غلام واخلم که نه؟

***

وایمه ولا چې زه مین په سپوږمۍ دروا غ نه
سپوږمۍ خدایزده چې دا څویمه پلا چې زه مین په
د ښکالو پلونه مې دغه راڼه ستوري، چې ګورې
مین په سپوږمۍ ژر به ور رسم انشالا چې زه
دا یې اوله ورځ، میاشت نه، نه یې لومړۍ کلیزه
چې زه مین په سپوږمۍ کلونه واوښتل بلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکر چې نه د چا ناموس، نه ننګ حیا ، خور او لور
برالا چې زه مین په سپوږمۍ چیغې وهمه
لیلا مجنون تللي د مینې په نوم لار خو نشته
ورځم په بسم الله چې زه مین په سپوږمۍ زه به
څارم نه د چا ور، نه د چا بام، نه د چا لورې
نه چاته ګورمه په غلا چې زه مین په سپوږمۍ
واوښتلې چې پرې اوښتی بېکسیاره ! نه وې
.اوس نو توکل مې په مولا چې زه مین په سپوږمۍ

***

چې بیا را مخ شو ، بیا ګیله مې په سر واوښته یار
واوښته صبر مې تم نه شو حوصله مې په سر

ته د خیال نیمزالې وږمې ټول عمر تازه اوسې
ولوله مې په سر واوښته دا خو ستا له بخته

داسې د غفلت په خوب ویده وم ټینګ په نیمه لار
باندې خته تله قافله مې په سر واوښته ما

ټینګ کړی له مودو مې چې د نه درتلو قسم و
مینه ټکنۍ شوه فیصله مې په سر واوښته

هغې ورځې زه بېکسیار داسې لېونی شوم له
.ډکه چې له خیال د یار پیاله مې په سر واوښته
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاله د چا له سترګو ډکه نن مې
په زړه ګیله د چا له سترګو ډکه
شرمېدمه ورنه ما ور کاته خو
سپوږمۍ چې تله د چا له سترګو ډکه
ښه دواړه یاد ېږي مې جرګه د
او فیصله د چا له سترګو ډکه
ړوند په کلو چې پسې کال کې کله
د چا له سترګو ډکه شپېله ایله
چا ور کتلي به وي ډ بر ور پسې
چې قافله د چا له سترګو ډکه
سر په اوږه یې بېکسیار ته ایښی
ډکه لا یې شمله د چا له سترګو.

***

شوله د وصل شپه په دار چې ستوري یو - یو پنا
تورو غرو مې لار چې ستوري یو - یو پنا -په تورو

شپه راغلې نه وه لاړه تېره شوله دا څنګه
زما سپوږمۍ ته انتظار چې ستوري یو - یو پنا

خړو خړو وربځو کې ډوب شین اسمان، سپینه سپوږمۍ
لمنه ټوله د بهار چې ستوري یو - یو پنا

هومره هم نه وي وهي سترګې مدام ورته مې خیال
پنا د ننداري یې نن خمار چې ستوري یو - یو

دا ته د کومو غرونو شوریې

بېکسیار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل خاطرو ته د یادونو غمازي مې کوي
ستوري یو - یو پنا اشنا مېلمه په ژوند یو وار چې

***

وخت هسې هم نه ده چې یاد بړي تل رڼاوې د
هغه شېبه هم یو یادگار چې ستوري یو - یو پنا

پنا تل ستوریو ته شمه بېکس چې بېکسیار وړم
خدای مې دې نه کړي هسې خوار چې ستوري یو - یو پنا

یې نشته چې په ورو - ورو الاهو یې ویده اشنا
.پنا څنگه به خوب وړي بېکسیار چې ستوري یو - یو

***

دښمن ښه دې چې وهي دې په مغزي
درته اغزي تر هغه دوست چې کري

تر کوټه سپي زار رسا په سړي دانګي
تازي نه په چم چم کې داړنه د

***
له خدایه نه چې، له بنده څه پته؟
پته؟ زما په شان د شرمنده څه

که د جهان عطرونه و شیندې پرې
پته؟ بوی به یې لگي د گنده څه

بېکسیار عبدالمالک | دا ته د کومو غرونو شوریې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ایمان دی چې ظالم به پر شي
پته؟ ساتم به ټینګه عقیده څه

قسم په خدای چې را یاد بړې مدام
پته؟ ښکلې !له تا مې څه پرده، څه

یم حرامخور که شرابخور، یم ځانته
پته؟ کوم له چانه به سجده څه

بېکسیار نیت د غزل نه وو کړی
.پته؟ اشنا له تا مې اراده څه
***

ژوند هینداره، که شیشه ده مینې ته یې
ده مینې ته یې بې سدي ده که نشه

غره ته ګورمه، که ستوري، که سپوږمۍ ته
مینې ته یې څه عجبه تماشه ده

تن مې بند - بند که ورتېږي په مړه اور کې
ده مینې ته یې که په زړه مې پلوشه

مینې ته یې چې دې قیس په غرو رغو کړ
ده مینې ته یې د فرهاد په لاس تېشه

!بېکسیار یې ګومارلی چې به لیکي
.ته یې شاعري که څه پېشه ده مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

سپوږمۍ څومره نېکمرغه يې څه لاره دې ړنا
درکې غلا نه، هره چاره دې ړنا ذره هم

اوږد د ژوند تيارې کړکۍ ته لاس زما دې چې را
د زړه تياره جونګړه کړه له واره دې ړنا

تانه يې څه زده؟ د ځمکې ړوند مخلوق دربغه له
درې، بانډې او کلي ټول له ښاره دې ړنا

ما شومان ستا په ارمان بې شکه به د کلي
ګودر دې، مازيګر دې او شودياره دې ړنا

لره ستوري تل دوا کړي بېکسيار رانه دې رب
ړنا شه غېږه دې څو چنده او بې شماره دې.

***

ويده په خوب کې بيا- بيا چای دموم
د چا چای دموم چې ويښ په خيال کې

څوک به راځي ګوندې عمرونو نه پس
دموم شبېه- شبېه چې لګيا چای

سترګې ګنډلې مې په وره کې د کور
دموم په پخلنځي کې بسيا چای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو نظر یې لا وچ کړی نه دی
دموم د زړګي سر ته به لا چای

مجلسي یار که یو وار رب راولي
دموم زه به سهار او ببګا چای

لکه کوچیانو چې اور بل سپوږمۍ ته
دموم چاپېره ستوري، رڼا ، چای

ما بېکسیار وې د زړه غوښې ورکړم
دموم خو د اشنا چې سلا چای.

***

ژوند

ژوند یانې څه؟
ژوند یانې باد کې سفر
یانې باران کې مزل
په سپیده داغ کې راوینس
په سره غرمه کې ویده .

***

کله لر مې زړه ماتېږي
کله بر مې زړه ماتېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکليو په اسره کې وي د
چې اکثر مې زړه ماتېږي

دی بمبارد په توره بوړه
غر مې زړه ماتېږي لکه

لور په لور نارې د هجر
ماتېږي سر په سر مې زړه

يار چې مړه- مړه ګوري نور څه؟
برابر مې زړه ماتېږي
بېلتانه تل د اشنا په
ناخبر مې زړه ماتېږي

په ديدن پسې ملنګ يم
ماتېږي په هر ور مې زړه

بېکسيار مين په مينه
.ماتېږي او په شر مې زړه

***

چې چېرې به يې بيايې دا نيمګړې برخه خواره

د ژوند او مرګ جګړې ته نېغ ور ووت سمد واره
په پړونده لاره ګردونه يې له پلونو نه خاته

بېکسيار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغه کلي دغه خلکو لاره مرور شو
.پام کړه بېکسیاره غرونه پسې ډېر کېدل چې

***

زه؟ زه څه خبر چې سمندر په شان ستا زوی ومه
ما خو ګڼله چې پیدا همدا اسې لوی ومه زه

ناوخته راغی د احساس ډېر یم احسانمند چې لږ
زما سینه خو یو ډک جام دی اوس به توی ومه زه

مور څه او مورنی، مینه څه؟ ماته څه پته چې
زه خو کاکه ومه په هر څه- هر څه پوی ومه زه

به ادا دې موري خدایزده خو کوښښ به کوم حق
زه که د پښتو ادب په بڼ کې سخنګوی ومه

د چا له زړه دوعا ساتلی بېکسیار یم ضرور
.ومه زه ګنې بتهې کې د حالاتو به الوی

***

خاونده بیا سپرلی شو ګودر لارې مې یاد ېږي
ترې ایله واوره شو دیارې مې یاد ېږي الوتې
ټول د کلي هغه بر سر ته شینشوبو کې غاټول،
ویالې ډډ ته د توتو د باغ بارې مې یاد ېږي
که راڅمه په دغو لارو هر وار زه که څمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا - بلا د چا سترګې خمارې مې ياد ېږي
سيلۍ سترې په وچو تورو غرونو کې د هجر
باندې و ته مې خيالونه ځي هوارې مې ياد ېږي
د ياد شمېرونه ساقي درته به څه کوم د يار
چې هر وار رېوم سترګې هر وارې مې ياد ېږي
بېزار زه بېکسيار يم له ښکليو د يورپ څخه
اندرې مې په زړه اوري، شينوارې مې ياد ېږي.

***

شاعره شپه ده، شاعر خيال مې د سپوږمۍ په ننداره په موسکا
ګورم بس له ورايه ځنګل، غر او سين ښکاره په موسکا هر خوا چې

اشنا ډېر- ډېر وې څه بيا رانه شې ماته له قصده خلکو مخکې
موسکا د سترګو يې راته وکړه ښو لاندې اشاره په

د زور، د ظلم، د وژلو، زولنو او زندان څه حکومت؟
وکړه د وګړو اداره په موسکا منم هغه چې که چا

ټنډه له ميکدې نه که هر وارې ساقي و ايستم په تروشه
خو زه په بيا- بيا ورته راغلم په زاريو دوباره په موسکا

پوره سات چې شو اوبو کې خپل تصوير سره ګډ بس هماغه دی
او بېچاره په موسکا په جنجالو ډوب بېکسيار خوار او حيران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اختر

شل کاله وروسته،
زه د چرمي درې نفري کوچ په دا منځ کې ناست
او شاته مې تکیه وهلې،
راته په مخامخ دېوال باندې
ځړېږي د توحید کلمه،
ترې لاندې دوه کرښې زما یو پخوانی شعرګوټی،
او تر هغه رالاندې،
د الماری په څنډه یو لیکه
کتار ځو تور او سپین عکسونه،

اول خلیل پاس د بیهي ونه کې،
بیا اسماعیل یون، بیا ارمان
بیا سید عمر او قاسم،
الماری ټوله، تر خوا دوه نورې هم،
له سولېدلو، سوځېدلو او خیرنو، پاڼې پاڼې
کتابونو ډکې،
نن اوو یشتمه روژه،
زه د سهار لمانځه ته شمېرم شېبې خوب رانه ورک،
سبا یا بل سبا - یا بل سبا اختر به ضرور
ماته به ته زیاته
تر شل کاله پخوا یادېږې.

***

## تړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د لاس ګړۍ کې هر ځلې ساعت شي پوره،
زما غوږو کې زه که هر چېرې یم،
د خبرونو یو زیګنال وشي،
د خبرونو سرخط:
"امریکایي پوځونو،
د تورې بورې په شاوخوا سیمو کې،
د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو یو ټولی تباه کړ"،
...
"امریکایي پوځونو،
د فلوجې په ښار کې،
د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو
څه نا څه د پاسه دوه زرو نه زیات کسان له منځه یووړل"،
....

"امریکایي پوځونو،
د پاکستان په سرحدي سیمو کې،
د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو
یوه لویه ډله ونیوله"،
....
اسرایلي پوځونو،
نن د غزې د ښار لوېدیز برخه کې،
له ښوونځي نه د راتګ په لاره،
دوه اووه کلن فلسطیني ماشومان،
د ماشینګنو په سرو ډزو کې غلبېل- غلبېل کړل،
د القاعدې له مسلمانې بنسټپالې ډلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تړاو یې لاره.

***

## باران

کیږدۍ کې ستونیستاخ لیمڅي باندې پروت
غبرګو لاسونو باندې سر مې ایښی
ورو - ورو غږېږي راته ساز د باران

د وریو ، مېږو یوه لویه رمه
څوړ- څوړ غوړېږونه چوپ بهر ولاړه
لکه مین چې په آواز د باران
تر ما هم کله له پرانیستې کیږدۍ
د باد څپه راوړي، څپه د ښاخکو
نغاړم ترې ځان نه، اخلم ناز د باران
په مخامخ غره کې تک ژیړ لمر ګوره
دا یو ځای اوري، یو ځای نه چې اوري
په دې کې هم به وي څه راز د باران

خدایزده چې اوس څومره شپېبه به تېره
چې بېکسیار ډوب یم په خیال کې د یار
راڅخه هېڅو هېر آغاز د باران.

***

## د ابد دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځم د غنمو طلايي فصل ته اور اچوم،
پاس د شوتلو
کوز د جوارو
شنو پټيو ته پاده ور پرېږدم،
چې په يوه شېبه کې جوړ کړي
ترې د بر کلي ډاګ،
او هغه پورې ډک
د سرو منهو باغ،
په ګيلمجمو چور کوم چې يې د سوند لرګي کا ،
رېدي ته وايمه چې نه به راځي،
غاټول ته وايمه چې کډه دې شي،
زه د وطن په غرو رغونو
شاړو دښتو
په ميرو
او په هوارو باندې،
تر هر څه، هر څه نه اول د ژوندون کر کومه،
هسې نه تخم يې ورک نه شي
د ابد دپاره.

## ژوند

دا ژوند عجب ژوندون دی
عجيبه يو قانون دی
ارمان ارمان کې ومره
ارمان ارمان کې ومره
دا ژوند څه عجيبه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو غم لاربه دی
د خان که د غربه دی
شپه په شپه تلون دی
ارمان ارمان کې ومره

په خپل کور که سارا یې
مجنون او که لیلا یې
غني، که بېنوا یې
په برخه دي بېلتون دی
ارمان ارمان کې ومره

باران وربېږي ناست یم
شپه وروسته به ملاست یم

الله پاک ته په خواست یم
په دي مې شین لړمون دی

ارمان ارمان کې ومره
زه میني ته بې وسه
د زړه اشنا را رسه
حالاتو ته بې کسه
قسمت زموږ پښتون دی
ارمان ارمان کې ومره

حیران زه بېکسیار یم

دا ته د کومو غرونو شوریې

بېکسیار عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هر سړي وېزار يم
د وخت په چار ناچار يم
بس کړی مې ترون دی
ارمان ارمان کې ومره.

***

## هوس

چې نيمه شپه د ليدو هوس دې
زما د خوب په درمندونو باندې سيوری وکا
لېمو کې ډنډې له ماښامه اوښکې
د گرېوانه په لوري، لوری وکا

چې نيمه شپه شي د ليدو هوس دې
زما د صبر کاسه واړوي نسکوره يې کا
خوا مې له ژونده چې له ځايه سړه
ورځخه سل چنده لا نوره يې کا

چې نيمه شپه شي د ليدو هوس دې
راشي زما په تياره خونه کې څراغ شي راته
ما لا په زغرده ور کتلي نه وي
ستا د ديدن يو خيالي باغ شي راته
چې نيمه شپه شي د ليدو هوس دې
راته سپوږمۍ له پوري غرو په تماشه راولي
بيا نه په ځان يم، نه په بل باندې يم
څه لېونۍ غوندې نشه راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نیمه شپه شي د لیدو هوس دې
زړه را زلمی کړي فکر ستا د پېغلتوب مې یوسي
په هغه شپه بیا ځوروي مې ډېر نه
راته پالنګ شي پکې خوب مې یوسي.

***

## تصویر

اسمان کې ایکي یو خړکی ستوری زما مخامخ،
زه د موټرو
بایسکلونو
او د پلیو لارویو
په یو ارت ځلورلاري کې ناست،

کله موټرې شمارم،
کله سایکلې
کله پلې جینکۍ
یا جینکۍ هلکان ګډ وډ سره،
نارینه نه شمارمه،

په نارینه وو ته کتو زه داسې ګران وختونه نه ورکوم،
اوس په اسمان کې هغه ایکي یو خړکی ستوري له مانه پنا،
هغه دی بیا یوه یوا ځې جینۍ
بس کې لاړه،
لږ شېبه وروسته به توده موده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کور کې ناسته،
یا د خپل یار په درشل،
خو زه خپل کور ته چې د بس لار هم نه
نه شم تلای کیلي مې ورکه،
او په اسمان کې هغه ایکي یو خړکی ستوری
زما مخامخ
بیا را څرګند.

***

## کیسه

اسمان تک شین لکه د ګوتې غمی،
کټ مټ زموږ د نیمزالې ګاونډی
پړونی تېر اختر کې،
خو بس یوه لکه په شپه کې
خور ځنګل ته ورته
توره وربځه،
زموږ د کلي په دا سر ولاړه یو سات وشو،
نه ځپک بره ځي نه کوزه خوځي،
سره له دې چې اوس هواوې ماتې،
خو چې لمر لږ پنا د ژمي احساس بېرته ژوندی،
د کلي مخې ته په نوې ټوکېدلې
د رشکې پټې کې،
بلاربه سپینکۍ دنګه رسا اسپه
دوه تورې او دوه ژېړې غواوې،
څنګه په وار سره اسمان ته ګورې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټيک لکه زه ښايې په وربځو غوسه،
دا زه کيسه نه ليکم،
نه تخيل دی زما،
دا زه همدغه شېبه ليکم چې همدغسې ده.

***

## تپوس

کابل وران، ميدان ويجاړ شو،
خو دې دواړو کې توپير شته،
عالمان به پرې پوهېږي،
ما خو داسې اورېدلي،
چې اکثره وران ودان شي،
خو ويجاړ چې خدايزده څه شي؟،
تش پوښتنه مې کوله.

***

## منې

د "منې گل" د لومړۍ مشاعرې په وياړ

څنگه مې زړه کېږي
په خپله چې ورو وخېژم خپليو سره،
څادر د دوو څانگو په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږدم کښنمه پرې،
او ښه تکیه ووهم،
په پېغلو ځانګو کې
را ځوړندو د سرو منو بنډار ته غوږ شم،
لږه شېبه په لاندې سین کې
د رڼو اوبو شرار ته غوږ شم،
د چا ښکالو مې د خیالو لړۍ
را و شلوي او لار ته غوږ شم،

لکه چې بیا یې د کلا په دېواله
له خپلو ځالو سره مار لیدلی،
پورې سنځلو کې د ګڼو کورنو مرغیو،
په زوره- زوره چغهار ته غوږ شم،
یو چتی راشي غواړي و ځري دې اړخ ته دلته،
نیمه مرغیو چې خوړلې په دا سره منه کې،
ببرته چې ماته یې پام ژر و تښتي،
زما منو ته تلو سه لا زیاته،
اول سورلاستی په غنمو پېرودلی چاکو،
د واسکټه له جېبه
په ناز را وکاږم
پرې رغوی تېر کړم،
بیا په منو ور خلاص شم،
چې په مزه- مزه او خوند- خوند یې کړم سپینه
لکه سپینه هګۍ،
بیا ترې تړانګې بېلوم د خټکي په شانې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغو خورم يې
چې د مور خبره: "و بزېږم"،
ياني چې ټنډ شم د ځاريو په شان،
بيا نو ور وغورځم پراخه سين ته،
تر هغو لامبم چې دا يو خروار منې مې هضم،
له لمبا سترې چې راوځم
رېگ کې خوب مې يوسي،
چې را ويښېږم غرمه تېره
ما سپښين هم پسې،
په درمندځای کې د تمام کلي واړه ماشومان،
په خرمستيو لگيا،
زه هم په بيړه ځان ور ورسوم.

***

## خدای پاماني

ستورو ! نور ځئ
له دې محله دلته اور را اوري،
لمره په دې غم کلي
نور چې را ونه ځلېږې !،

سپوږمۍ په مخه دې ښه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**